## فهرست

عنوان                                                   مخ
لومړی څپرکی ........................................ ۳
د پیسو پیدایښت او د علماؤله نظره د هغوی تعریف........................................ ... ۳
دبارتړ سیستم ستونزی........................................ ۵
د تاریخ په اوږدو کې د پیسو وده او تکامل........................................ ۷
د پیسو دندې ........................................ ۱۴
د پیسو ارزښت........................................ ۱۸
دپیسو کورني ارزښت........................................ ۱۹
د پیسو باندنی ارزښت........................................ ۲۰
دوهم فصل........................................ ۲۲
د پیسو سیستمونه او د پیسو دخپرولواصول........................................ ۲۵
دوه فلزي سیستم ........................................ ۲۴
ګریشام قانون........................................ ۲۵
د پیسو یو فلزي یعني طلایې سیستم........................................ ۲۶
د دوو فلزاتو مخلوط سیستم........................................ ۲۷
د بانکنوټ سیستم........................................ ۲۸
دپیسو دنشرولو اصول........................................ ۳۰
په بانکنوټ باندي د طلا د تبادلې معیار........................................ ۳۱
د الکترونیکي پیسو منځته راتګ........................................ ۳۴
دریم څپرکی........................................ ۳۶
د پیسو د مقدار په اړه د پوهانو نظرونه........................................ ۳۶

جنسونو په مقابل کي يې د تبادلې ورتيا تر لاسه کړه چې د تبادلې دغه ډول د تبادلې د څو اړخيز سيستم په نامه يادېږي.

د تبادلې دغه سستم هم ملياردونه کاله زماني واټن له ځانه سره لري او وروسته يې دهغو ستونزو له مخي چې په دې سستم کي منځته را تلې، وکړای شول چې خپل ځای جنس په جنسسيستم ته پريږدي

**دبارټر سيستم ستونزی**

**۱:دطرفينو ترمنځ د غوښتنو دمطابقت نه موجوديت**

په بارټر سيستم کي يو لويه ستونزه د توکو اوخدمتونو په تبادله کي د اړخونو ترمنځ د غوښتنو د مطابقت نه موجوديت وه او په دي سيستم کي ډيره گرانه ده چي يو کس دخپلي اړتيا وړ توکي په اساني سره ترلاسه کړي يعني کله چي کله به کوم شخص غوښته د خپلي خوښي جنس لاسته راوړي نو دی به د داسي شخص په لټه کې وه چي دوهم شخص د لومړي شخص جنس ته ضرورت ولری او همدارنگه لومړي شخص به د دوهم شخص جنس ته ضرورت درلود د داسي شخص پيدا کول يو څه ستونزمن وه دمثال په ډول يو شخص کالي درلودل او بل شخص به غنم، د غنم شخص غواړي چې کالي ترلاسه کړي هغه هم د غنمو په مقابل کي او د کاليو شخص هم غواړي چي غنم لاسته راوړي هغه هم د کاليو په مقابل کي ترلاسه کړي نو د دواړو اشخاصو ترمنځ د ا تجارت ستونځمن وه علت يې د طرفينو کموالی وه .

**۲:د ارزښت د اندازه گيري لپاره واحد نه موجوديت:**په بارټر سيستم کې د توکو خدمتونو د ارزښت د معلومولو لپاره داسي يوي وسيلي شتون نه درلود چې له مخي يي د توکو او يا هم د خدمتونو ارزښت اندازه او راکړه ورکړه ورباندي ترسره شي او يوه بله ستونزه داهم چي گټه او زيان اندازه کړی .

۳:**ویش قابلیت نه موجودیت:**په بارټر سیستم کې یوه ستونزه دا هم وه چې ځیني اشیا دي چې د ویش وړتیا نه لري هغه په اساني سره نه شواى تبادله کیداى

دمثال په ډول :احمد اس ته اړتیا لري او ورسره میږي شتون لرى نو په بنار کې باید داسي شخص پیداکړي چې اس ورسره وي او میږو ته اړیتا ولری نو که داسي شخص پیدا هم شي نو د دوي تر منځ په تبادله کې بیا هم ستونزه وه ځکه چې محمودبه له احمدڅخه د اس په مقابل کې لس میږي غواړي او احمد به میږي نه ورکوي او یا هم دا چې چې احمد به یو اس ته او محمود به دوو میږو ته ضرورت ولري او له دواړو سره به یو دبل د اړتیا وړ توکي هم شتونه ولرى که چیري دوي په تبادله راضي هم شي بیا هم ستونزمنه ده چې راکړه ورکړه ترسره شي ځکه چې احمد نه شي کولاى چې محمود ته ددوو میږو وړاندي نیم اس او یا هم د اس یوه برخه ورکړي .

۴:**د ارزښت په زیرمه کولو کي ستونزه :**په بارټر سیستم کي ځیني توکي دپیسو په ډول د ډیر وخت لپاره نشي زیرمه کیداى ځو په راتلونکي د نورو توکو او یا خدماتو د راکړي ورکړي په وړاندي ترینه ګټه واخیستل شي مثلا:غوښه ،رومیان ،کچالو اوداسي نور

۵:**د شتمنو په لیږد کي ستونزه** :په بارټر کی سیستم کي له یوي سیمی نه بلی سیمي ته دشتمنیو لیږد له ډیرو ستونزو سره مخ وه.

مثال په ډول:احمد په کابل کي ۱۰۰۰پسونه لري نو د دومره پسونو لیږد د هرات ولایت ته ډیر ستونزمن وه.

اوداسي ځیني نور ستونزي درلودی ترڅو داسیستم له منځه ولاړه.

**۲: دپيسو تبادلوی ارزښت:**دا ډول ارزښت د کاليو ،پيسو او توليد د عواملو په بازار کی د راکړي او ورکړي سره رابطه پيداکوي ،تبادلوي ارزښت په ذکر شويو بازارونو کې د يو پولي واحد د خريد دطاقت څخه عبارت ده .

پخوا به د پيسو تبادلوي ارزښت زياتوالی او کموالی د پيسو د فلزی ارزښت تابع وو ،دپيسو د فلزي ارزښت لوړوالی دکاليو ،پيسو ،اوتوليدد عواملو(ځمکه،کار،سرمايه،منجمنټ)په بازار کې د يو پولي واحد د خريد د طاقت د لوړوالی سبب ګرځيده.

د وخت په تيريدو سره چي د فلزي سکو ځای کاغذي پيسو ونيوه نو دپيسو په ارزښت کې بدلون رامنځته شو،د پيسو فلزي ارزښت نه تنها يو اعتباري شکل لري او نور هيڅ فلزي ارزښت پکي پاتي نه دي او اوس مهال د پيسو تبادلوي ارزښت د شرايطو سره سم او مرکزي بانک د پاليسيو پر مطابق ټاکل کيږي ،د ورستيو بدلونونو په پام کې نيولو سره نن په ملي اقتصاد کې د پيسو ارزښت په لاندي دوه ډوله دي .

**۱:دپيسو کورني ارزښت**

**۲:د پيسو بهرنی ارزښت**

**۱ــ د پيسو کورنی ارزښت :**په يوه اقتصادي دوره کې د پيسو کورنی ارزښت د هيواد په بازارونو کې د ضرورتونو د رفع کولوپه منظور د عرضه شويو اجناسو او خدماتو مقدار څخه عبارت دی.

په ملی اقتصاد کې په يو مشخصه اقتصادي دوره کې چي څومره اجناس او خدمات د ضرورتونو د رفع کولو په منظور بازار ته عرضه کيږی ،او همدارنګه په يوه قتصادی دوره کې اشخاص او کورني عايد ترلاسه کوي يو د بل سره اړيکه لري.

که په بازار ته عرضه شويو کاليو اندازه H=(H1,H2,H3,..Hn)

داشخاصواو کورنيو له خوا ترلاسه شوی عايد په(M=(M1,M2,M3,…Mn

په بازارکې د پيسو کورنی ارزښت (W=(W,W2,W3….Wn

او د هيواد په بازارنو کې د کاليو قيمتونه(P=(P1,P2,P3…Pn

سره وښودل شي نو هغه مقدار کالي چي د يو پولي واحد په مقابل کې په بازار کې پيرودل کيږي د پيسو کورنی ارزښت راپه گوته کوي ،او هغه مقدار پيسي چي د کاليو د يو واحد لپاره د هيواد په بازار کې تاديه کيږي د کاليو د قيمت په نامه ياديږي .

چې په رياضيکي توگه يي په لاندي توگه ښودلی ښو

$$P=M/H \qquad W=H/M$$

د پورتنيو رابطو څخه لاندي نتايج ترلاسه کيدای شي.

۱ــــ د پيسو ارزښت او د کاليو قيمتونه دوه معکوس نسبتونه دي چې د کاليو د قيمت په لوړيدو سره د پيسو ارزښت کميږي او د کاليو د قيمت په کميدو سره د پيسوارزښتلوړيږي .

۲ــــ د پيسو ارزښت د هيواد په بازارونو کې د کاليو مجموعي عرضي سره مستقاودپيسودمقدارسره،معکوس-تناسبلری.

۳ــ د کاليو قيمتونه د هيواد په بازارونو کې د کاليو مجموعي عرضي سره معکوسه اړيکه او د پيسو دمقدار سره مستقيم تناسب لري .

**۲ــــ د پيسو باندنی ارزښت:** څرنگه چې په اقصادي فعاليتونه او د راکړي ورکړي ساحه د يو ملک په سرحداتو کې محدوده نه پاتي کيږي او د سوداگري اړيکي ورځ په ورځ پراختيا کوي ،کورني پيسي نه يوازي

په بازارونو کې د کالیو په مقابل کې بلکه د پیسو په بازار کې د باندینو پیسو په مقابل کې تبادله کیږي چې د باندنیو پیسو سره د کورنیو پیسو تیادله د یو نرخ د رامنځته کیدو سبب کیږي چې همدا نرخ ته د پیسو باندیني نرخ ویل کیږي .

د ا تبادلي د نرخ تغیرات (لوړوالی او کموالی)دپیسو په بازارنو کې د باندینیو پیسو په عرضي او تقاضا او همدارنګه د باندینیی سوداګري کې د بدلون او تغیراتو سره رابطه لري ،د کورنیو پیسو د یو واحد بیه په باندینیوپیسو باندی د پیسو باندني ارزښت څخه عبارت دي ،او دباندینو پیسو د یو واحد بیه په کورنیو پیسو د پیسو د تبادلي نرخ څخه عبارت دي.

څرنګه چې د پیسو کورني ارزښت دکالیو د قیمتونو سره معکوس تناسب لري همدارنګه د پیسو باندینی ارزښت او دپیسو د تبادلي نرخ هم یو د بل سره معکوسه رابطه لري ،د تبادلي د نرخ په لوړیدو سره د پیسو باندنیي نرخ کمیږي او د تبادلی د نرخ په کمیدو سره د پیسو باندیني ارزښت لوړیږي ،د پیسو کورني او باندیني ارزښت یو دبل سره ټینګي اړیکي لري چې د یوه بدلون په بل باندي پوره اغیزه کوي که د هیواد په داخلي بازارونو کې د خارجي بازارونو په نسبت د کالیو قیمتونه په چټکي سره لوړ شي نو ،

۱ــ د پیسو کورنی ارزښت یا د پیسو دخرید قوت د کالیو په بازارونو کې کمیږي .
۲ــ د کورنیو کالیو د قیمت لوړوالي په نسبت صادرات کم او واردات زیاتیږي.

۳ــ د وارداتو زیاتوالي د پیسو په بازار کې بهرنیو اسعارو ته تقاضا لوړوي،او همدارنګه د صادارتو په کموالی سره دبهرنیو اسعارو په برخه کې کموالی رامنځته کوي .

که دهیوادنو ترمنځ سوداګري د ازادی ببي سیستم منل شوی وی نو دپیسو په بازار کې د تبادلي نرخ لوړیږی البته د واردونکي هیواد لپاره او دپیسو باندیني ارزښت کمیږی ،که په سوداګري کې بدلون دثابتي بیي سیستم

دوه فلزی معیار په بلجیم،ایټآلیا،سویذرلند،کې هم جریان درلود او په ۱۸۷۴م کال کې رومانیا او جرمنی همدا معیار پلي کړ او په همدې د نړي نورو هیوادونو کوښښ کاوه چې دوه فلزی معیار پلي کړي خو مخکې له دي چې د نړي نور هیوادونه دا سیستم پلي کړي داسیستم له ناکامي سره مخ شو.

**ګریشام قانون**

توماس ګریشام د ملک الضبت مالي مشاور و او د هغه د ژوند دوره له ۱۸۱۹څخه تر ۱۸۷۹کال پوري رسیږی .

دې دا څرګندونه کوي چې خرابې پیسې همیشه ښې پیسې له منځه وړي ګریشام ملک الضبت ته وویل هغه سیکې چې د نقري په نسبت ډیر ارزښت لرونکي دي خلک یې د تبادلې د وسیلي په توګه د کارولو څخه ډډه کوي یعني طلایی سیکی له جریان څخه وځي او پر ځای یې هغه سکې جریان پیدا کوي چې لږ ارزښت لرونکي دي

لکه څرنګه چې مخکې ذکر شو ل ددی پدیدي لامل هنری د ملک الضبت پلار وه،هنری د نقري په سیکو کې د نقری فیصدي له ۹۲,۵٪څخه یې ۳۳٪ ته راکښته کړه او د نقرو په سیکو کې هغه ارزښت پاتې نه شو کوم چې واقعی وه،د خلکو په ذهنو کې د نقري سیکو د خرابو پیسو ځای پیدا کړ او طلا په همدی شکل په خپل حال پاتی وه نو خلکو باید طلا له ځانه سره ساتلی وایی ځکه چې د نقرو سیکي خپل ماهیت له لاسه ورکړیوه او خلک ویریدل چې که نقره له ځانه سره وساتي نو په راتلونکي کې به د نقري ارزښت نو هم ټیټاو خپل ارزښت به له لاسه ورکړي البته اسمی ارزښت ، او دا ددې سبب شو چې نقره په جریان کې پاتې شی او طلا د خلکو له خوا ذخیره اوپه جریان څخه لاړه شی

ګریشام د قانون لاه تشریح داوه چط د طلا او د نقری تر منځ یو اسمی یا قانوني قیمت پروت وه چې یو انس طلا به ۱۵انسه نقره کیده ولي د نقري دسیکو فیصدی ددذی لهمل سو چې اسمي قیمت تر څنګ غیری

اسمي قيمت هم رامنځته شي او قيمت د ازاد ماركيټ د عرضي پر اساس تعين كيده يعنی كله به چې په بازار كي د نقري عرضه زياته سوه د نقري قيمت به راكښته كيده او شايد د يو انس طلا په مقابل كط ۱۶ انس نقره ترلسه شوی وای يا تبادله سوی وای او خلكو به د يو انس نقري د ګټي ترلاسه كولو په خاطر طلا به يي په نقره تبارله كوله دا معاملات به ددې سبب شول چې طلا به له جريان څخه ووته او نقره به جريان كې شوه ځكه ډيرو خلكو كوښښ كاوه چې ګټه ترلاسه كړي تر څو پورتنی مشكلات ددی سبب شوه چې دوه فلزی پولي معيار له منځه ولاړ او د طلا معيار رامنځته شوه

## 2. د پيسو يو فلزي يعني طلايي سيستم

په طلايي معيار كي سيكی نه تنها په ملي سطحه بلكي په نړيواله سطحه هم د راكړي وركړی رول درلود ،په امريكا كې هم په ۱۹۰۰م كال كې طلايي سيكي د تبادلي د وسيلي په توګه كارولي چې يو امريكايی ډالر په ۲۵,۸ګراين طلا سره تبادله كيده .

په همدي شكل هر شخص كولای شول چې يو امريكايی ډالر په مقابل كې ۲۵,۸ګراينه طلا لاسته راوړي په طلای معيار كې هر هيوار د خپلو پيسو ثابت قيمت درلود يعنی د طلا او ډالر ترمنځ مشخص د تبادلي قيمت او په همدي ترتيب د طلا او پاونډ ترمنځ مشخص د تبادلی قيمت موجود وه مثلا كه يو هيواد غوښتي چې امريكاي ډالر د خپلو داخلي پيسو په مرسته راوړي نو دا تبادله به د طلا په نسبت ترسره كيده يعنی هغه قيمتونه چې هيوادونو د خپلو پيسو لپاره د طلا په مقابل كې ټاكلي وو تبادله ترسره كيده ددی معيار د ښه والي رازپه دې كي وه چې د هر هيواد دپيسو ارزښت ثبات هم په ملی او هم په نړيواله سطحه درلود.

ولی طلايي معيارځيني ستونځي له ځان سره درلودي يعني كله به چې كوم هيواد واردات درلودل نوموړی هيواد به دبادياتو د بيلانس دكموالی د مشكل سره مخ كيده او داكموالی ددی سبب كيده چط د ځكه همدا طلا وه چط د هر هيواد په داخلی پيسو تبادله كيده او كله به چی دا تنساب له منځه لاړ نو پر داخلي پيسو به هم

باور کمیده ځکه هغه تناسب چې د طلا او پیسو ترمنځ موجود وه ګډ وډ کیده نو هیوادونه مجبورول چې دا تناسب برابروساتي ، او دطلایي کمی ددی علت کیده چې پیسی هم کمي کړي او دا دپیسو کمی ددی لامل کیده چې دهیواد په سطحه په ارزانی (دیفلاسیون)رامنځته کړي ،چې ددي پایلي به پراجناسو داسی پریوتي چې داخلي اجناس ارزانه او خارجي اجناس په قیمته ترلاسه کیدل

همدا داخلي اجناسو ارزانه کیدل دبي کاري ،د سرمایه ګذاري کموالی سبب کیده او ترڅنګ یی هغه تناسب چی دهیواد د طلا او پیسو ترمنځ موجود وه سره ګډ وډ او په نتیجه کي د خلکو اعتبار په پیسو کمیده.

پورتنی ټول مشکلات ددی سبب شو چې په ۱۹۳۰م کال کې طلایي معیار هم په ملی او هم په نړیوال سطحه له منځه لاړشي .

### 3-د دوو فلزاتو مخلوط سیستم

که دوه نجیبه فلزات څخه په مرکب ډول سکي جوړ شي نو داسی معیار د مخلوط پولي معیار په نوم یادیږی چې ددی سکو لپاره یو خاص قیمت او خاصه فیصدي د فلزاتو لرونکي وي .

هغه ستونزي چې د تاریخ په اوږدو کي په بارټر سیستم کې موجودی وی ددي لامل شوي چط د پیسو فلزي سیستم رامنځته کړي چې دا فلزات عبارت وه له اوسپني او مس څخه ددي فلزاتو ماهیت د همدی فلزاتو په کموالي کې وه ولی د وخت په تیریدو سده او د مدرنی تکنالوژي پرمختګ ددی فلزاتو د کمښت ماهیت له منځه یووړ او علت شو چط ددي فلراتو ارزښت کم کړي او هغه پولي ارزښت چې په همدي دوه فلزاتو کي پروت وه له منځه ولاړ .

